پوهاند بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۹/۰۹

د افغانستان د پوهانو او متخصصانو ټولنه- مجمع دانشمندان و متخصصان افغانستان

**د اوبو اقتصاد**

**( د اوبو او انرژۍ وزارت کې دایریدونکی علمی کنفرانس ته د لیکل شوې مقالې لنډیز)**

**ســـریـــزه**

طبیعی سرچینې زموږ شاوخوا ټول هغه ژوندي او ناژوندي موجودات دي چې موږ یې په عنعنوی ډول تر خپلې استفادې لاندې راولو او اقتصادی استفاده ورڅخه کوو. طبیعی منابع اقتصادی سیستم ته د طبیعت او چاپیریال ارزښتناکې ورکړې دي چې زموږ په رفاه او هوسایینه کې رول لري. کله چې د منابعو اقتصادی ارزښت ته ګورو، نو د شتمنی حیثیت پیدا کوي. چاپیریال زموږ ټول شاوخوا پنځ (طبیعت یعنی ژوندی او ناژوندی موجودات) دی، خو منابع یا سرچینې بیا د دغه ټول چاپیریال او محیط اقتصادي ارزښت لرونکي توکي دي. دغه توکي موږ ته ګټور او د لاسبری وړ دي، هغه چې د لاسبری وړ ندی، سرچینی نشو ورته ویلای. دچاپیریال ځینې منابع به ممکن تیاري او اماده شکل باندې وی، لکه د چینو او سیندونو اوبه ، ځینې به پروسس، استخراج او مرتب کولو ته اړتیا ولري لکه وسپنه، پولاد او نور، ځینې به راټولولو ته ضرورت ولري لکه طبی بوټي، کبان او نور، ځینی به پریمانه او مفته وی لکه اوبه، دلمر وړانګې، باد اوهوا، خو ځینی به ډیره لوړه بیه ولری لکه نجیبه عناصر. طبیعی منابع د انسان د کار محصول ندی، بلکې په قدرتی ډول دوی ته میسر دی، چې د ملکیت ادعا هم وربانديې کیدای شی لکه یو جریب کرنیزه زمکه چې د ځانګړی شخص په واک کې وی، خو ځینې نوری عامه ملکیت دی او د تصرف او مالکیت ادعا وربانډی نشی کیدای لکه معادن، ځنګلونه ،سیندونه، ملی پارکونه او نور. نن ورځ بشریت دغه سرچینې او منابع کشف کړي او خپلې استفادی لاندی یې راوستی دی، مدیریت کوی یې او پلان او پالیسی ورته جوړوی. هغو هیوادو چې خپل طبیعی ثروت څخه یې ښه او معقوله استفاده کړی، دنړی بډای او صنعتی هیوادونه دی، هغوی چې دغو منابعو ته انکشاف ندی ورکړی او له استفادی څخه یې عاجز دی بیوزله بلل کیږی. په دې لړ کې یوه مهمه طبیبعی منبع اوبه دي، چې د هر کال په تیریدو سره یې اقتصادی اهمیت زیاتیږی. مدیریت ته یې اړتیا پیښیږي او د پلان او کار کولو ضرورت یې احساس کیږی. نن ورځ د اوبو مسئله سیاست ته هم ننوتی او ګڼ شمیر هیوادونه چې د اوبو قلت سره مخامخ دي، دغې موضوع ته د خپلی ستراتیژیکی او امنیتی نقطی نظره ګتنه کوی. افغانستان یو له هغو هیوادو څخه دی چې د

پاک پروردگار په رحمت سره پوره سیندونه (د کال په اوړدو کي ۲۴ او دموسمی خوړونو سره ۲۶سیندونه) لری، خو بی زحمته راحت او بی حرکته برکت نشته، نوموړ نه یو توانیدلی چی دغه قیمتی جاری شتمنی او منبع مدیریت او کار ورڅخه واخلو، په کار ده چی وروسته‌تردی له دی غفلت څخه را ویښ اوخپلی اوبه د خپل اقتصاد، استقلال، عزت او ابرو لپاره مدیریت کړو. تر هرڅه دمخه د دي اقدام لپاره نظری پوهه او معلومات او د اوبو په اهمیت باندی پوهیدل په کار دی. په دي توگه به دغه لنډه مقاله کي په دي موضوع بحث وشي.

## د افغانستان اوبه

## اوبه په څو شکلونو موجودی دي:

الف) د ځمکی پرمخ رواني اوبه surface water

ب) ترځمکي لاندی اوبهunder ground water

د ځمکي پر مخ اوبه لکه سیندونه، ویالي، چیني او کاریزونه. خو ولاړي اوبه هم په دی کی راځی لکه د غزنی د ناور ولاړي اوبه ، دهامون هلمند ولاړی اوبه او نوري. دا د اوبو د ډنډ (ټولیدو) هغه ساحي دي چي اوبه یي په طبیعي توگه یوي گډي مجرا ته ورتوئیږي. د افغانستان د جغرافیي او د دي تعریف په نظر کي نیولو سره په آسانی سره کولای شو د هیواد ټولي اوبه په سیندیزو حوزو باندي وویشو. دا یو واضح حقیقت دی چي د افغانستان ټولي اوبه یوي واحدي مجرا ته نه تویيږي بلکي بیلابیلو مجراگاتو کي تویيږي. د بیلگي په توگه د کابل سیند د افغانستان له خاوري وځي او د اندس له سیند سره یوځای کیږی، د هلمند سیند په همدي ډول د ۱۲ مایل پولي جوړولو سره سره د ایران خاوري ته ننوزي او د سیستان په دښته کي هامونونو ته تویيږي. د هریرود سیند له پولي جوړولو وروسته د ایران او ترکمنستان تر منځ پوله (سرحد) جوړوي او د دوستی بند کي راټولیږي. د پورته واقعیتونو په نظر کي نیولو سره ویلای شو چي د هیواد اوبه باید بیلي بیلي سیندیزي حوزې ولري، له همدي کبله دي چي د اوبو او انرژی وزارت د هیواد ټولي اوبه په پنځو سیندیزو حوزو باندي ویشلي دي چي نومونه یي په لاندي ډول دي (الف شکل)

- ۱- د کابل سیندیزه حوزه.
- ۲- د هلمند سیندیزه حوزه
- ۳- هریرود - مرغاب سیندیزه حوزه
- ٤- د پنج – آمو سیندیزه حوزه
- ٥- د شمال سیندیزه حوزه
- ٦ - شیرمه حوزه چي باید په نویو مطالعاتو کي په پام کي ونیول شی، هغه د هیوا دجنوب سسیندونه دی.

د کابل سیند په پورتني برخه کي ابشارونه لري چي د لویدیځ څخه ختیځ لور ته د پراخو سیمو او تنگو درو څخه تیریږي ، کله چي دللندر د تنگي دري څخه تیر شي د چهاردهي د سیمي څخه وروسته دکابل ښار ته ورننووځي کله چي دکابل له ښار څخه تیریږي د ارزان قیمت په سیمه کي د لوگر سیند ور سره یوځاي کیږي او بیادتنگي غا ر د تنگي ته داخلیږي چي نغلو په ساحه کي د پنجشیر سیند ورسره یوځاي کیږي د سروبي نه وروسته وریښمین تنگي ته داخلیږي . د علینگار او علیشنگ سیندونه دلغمان عزیز خان کڅ په سیمه کي دکابل د سیند سره یو ځاي کیږي ،د ننگرهار د درونټي په جنو ب کي سره رود اوبه ورسره یوځاي کیږي .

اوبه هغه حیاتی ماده ده چې نه یواځې د انسانانو او حیواناتو، بلکې د ونو- بوټو ژوند هم ورپورې تړلی دی.
دافغانستان یوشمیر لوی سیندونه دا دي:



*Figure 1: Afghanistan river basins (source: Procedure on the framework for water resources management in the river basins, MEW May 2011)*

د کابل د سیند د پغمان د غرونو له دري څخه چي د بحر له سطحي څخه ۳۵۰۰متره لوړوالي لري سرچينه اخلي، ټول مسير يي د تر سند درياب پوري ۷۰۰ کيلومتره دی چي د ننګرهار په ختيځ کي دکوزي پښتونخوا سيمي ته وځي. د کابل سيند ۵۶۰ کيلو متره د افغانستان په خاوره کي او نور۱۴۰ کيلومتره د پاکستان په خاوره کي بهيري د کابل سيند د ننګرهار يوه سيمه د يوه کانال پواسطه خړوبوي کله چي دغه سيند د جلال اباد ښار د شمال ختيځ د بهسو د ساحي څخه تير شي د کامي دزاخيلو دکلي په سرکي دکنړ سيند ورسره يوځاي کيږي او بـلاخره د لعلپوري دتنګي له لاري د پيښور سيمي ته او بيا د اټک په ساحه کي د سند له سيند سره يوځاي کيږي ،د کابل سيند داقتصادي نقطي نظره ډير زيات د اهميت وړ دي ، که استفاده ورڅخه وشي د افغانستان په سلو کي نوی د اړتيا بريښنا توليدوی او کافي اندازه زمکي په ګنبيري او نورو سيمو کی تر کښت لاندې راوستلای شي. که د کونړ ولات کي د کونړ په سيند دبريښنا بيند جوړ شي، موږ د دې جوګه کوي چي، له داخلی تکافو بر علاوه بهر ته بريښنا صادره کړو.
د آمو سيند د سيند ته د اوکس او عربانو د جيحون نوم ورکړی ده، د آمو سيند د پامير د ځوکو څخه چي د زکول په نوم ياديږي او لوړوالي ئي (۴۱۲۵) مترو ته رسيږي سرچينه اخلي چي د ارال تر بحيري د۲۵۰۰ کيلو مترو په فصله وررسيږي، يعني د دغه سيند اوبه له هيواده بهر داورال په سمندرګی کی تويږي. دغه سيند د۱۲۰۰ کيلو مترو په اندازه دافغانستان او دمرکزي آسيا د هيوادونو (تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان) تر منځ سياسي سرحد تشکيلوي، د آمو د سيند مرستيالان دهغه ۳۰% ډکوي.
دښي خوا مرستيال سيندونه چي دمرکزي آسيا هيوادونو پوري ارتباط پيداکوي د کون (cond) ، چک(chak) ، قزل سو (qizal so)، وخش (wakhsh)، کافرنهان او سرخان څخه عبارت دي. ، چي زموږ له هيواد څخه بهر دی، خو دهيواد دننه مرستيالان يي د واخان ،کوکچي او کندز سيندونه دي. د افغانستان د اوبو د شمال دحوزي نور سيندونه دامو سيند ته تر رسيدو څخه مخکي په ريګستانونو کي و چيري چي دخلم ، بلخ آب، اندخوي او قيصار سيندونو دي. دامو سيند د سرچني څخه تر کوکچي سيند پوري ډير تيز او سرعت يي زيات دي او زياتي خړوبي او د يخ غتي ، غتي ټوټي له ځان سره راوړي . دامو سيند د اوبو اندازه د کرکي (kerki) په سيمه کي په في ثانيه کي ۲۰۵۰ مکعب مترو ته رسيږي ،مګر کله چي د ارال سمندرګي ته توئيږي داوبو دبت يا اندازه (۱۴۹۰) مکعب متره ته کيږي ځکه چي نوري اوبه دکرني او نورو اقتصادي فعاليتونو لپاره په مصرف رسيږي .
د امو سيند چي پخوا د خم اب له سيمي څخه تيريده د دواړو غاړو زياتي برخي يي تخريبولي مګر اوس څه ناڅه کنترول شوي دي، دا سيند دافغانستان او مرکزي اسيا هيوادونو ترمنځ يو طبيعی سرحدجوړوي ، چي دنړيوالو حقوقو له مخي بين المللي سيند ورته وايي دافغانستان په شمول نور مربوطه هيوادونه کولي شي د ټاکلو شرايطو مطابق ورڅخه لازمه ګټه پورته کړي ،مګر داچي دامو سيند کيڼ لوري (افغانستان) مناسب شرايط او وسايل په لاس کي نه لري نو تر اوسه کومه ګټه ورڅخه نه اخستل

کيږي . دافغانستان شمال کي چي کرهني او مالداري ته يي زيات انکشاف ورکړي دی هغه دامو سيند مرستيالان سيندونه (کندز




او کوکچي سيندونه) دي.

د افغانستان يو بل سيند د هريرود سيند دی. دغه سيند د هيواد مرکزی سسيمو کي د بابا له غره څخه رابهيږی. په پيل کی دده له لمنو څخه دوه سيندونه د سنګل اب او سر جنګل په نوم سرچينه اخلی چی ددولت يار په سيمه کی سره يوځاي کيږي او د هريرود سيند جوړوي، دا ځکه چي وروسته تر دغي سيمي د هرات ساحي ته ورځی او دهرات دنوم له امله ورته هريرود وايی. دغه دسيند د ۴۰۰ کليو مترو په اندازه د کاسه مرغ اوسفيدکو د غرونو تر منځ غځيدلی، لوی مرستيال يي تکاويشان نوميږي چی د ۲۰۰ کليو مترو په اوږدوالی د سياه کوه دغره په جنوبي لمنو کی بهيږی چی وروسته د هريرود سره يوځا ی کيږی د ۵۰۰ کليو مترو په اوږدوالی د هرات څخه تيريږی اوبيا د افغانستان او ايران ترمنځ سرحد جوړوی اوبيا زموږله خاوری ور هاخوا د ايران او ترکمنستان ترمنځ سياسی سرحد جوړوی او دهغوی په خاوره کي بهيږی چي دواړه هيوادونه ورڅخه ګټه اخلی او ايران دوه بندونه وربانديِ جوړ کړی دی.

په جنوب لويديز کي دافغانستان يو لوی سيند د هلمند سيند دی، چي د ۳۸۰۰ مترو په جګوالي سره د هزاره جان د غرونو څخه څخه شروع اوبيا دافغنستان اوايران سرحد کی ولاړو اوبوکي ورګډيږی .دافغانستان په خاوره کي يي مسير۱۴۰۰کيلو متره دجنوب او جنوب لويديزو سيمو کي دی ، دهلمند سيند د شروع څخه تر ګرشک پوری يوڅه ځمکی خړوبوی او سرعت يی ډير زيات دی د ګر شک څخه وروسته يي د بحر له سطح څخه لوړوالی ۸۰۰ مترو ته راکميږی عرض يی زياتيږی دقلعه بست په سيمه کی دارغنداب سيند ورسره يوځای کيږی .

دهلمند دسيند د اوبو اندازه د کال په اوږدو کي توپير کوي يعني له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰۰ مکعب مترو پورې د بدلون په حال کي وي، دغه تغييرات کله کله ځمکی تراوبو لاندی کوی او کله هم په يوه کوچنی سيمه کی محدودی وی دهلمند دسيند شااوخوا سيمی وچی او سحرايی اقليم لری او دسيمي دخلکو ژوند همدې سيند پوری تړلی ده . دهلمند دسيند دپاسه دکجکی به سيمه کی او دګرشک په سيمه کی دبريښنا دتوليد لپاره استفاده کيږی او د بغيز د نهر هم دهلمند دسيندڅخه سرچينه اخلی دکجکی بند دبريښنا ظرفيت په يوه ساعت کی ۳۳۰۰۰ او د ګرشک د بريښنا ظرفيت ۲۸۰۰ کيلواته فی ساعت ته رسيږی دهلمند دسيندڅخه د نهرونواو ويالو پواسطه ۱۴۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبيږی دهلمند دسيند مرستيالان په ارزګان کی کميان او ترين او د موسی قلعه او دتو پانی رود د سنګين په سيمه کی ورسره يوځای کيږی، يعنی دغه سيند له څو ولايتونو څخه تيريږی.

د اوبو راتلونکي، ساينسپوهان لويه انديښنه کي اچولي دي، خو سره له دې هم دوی په احتياط ګام اوچتوي، د اوبو د

راتلونکوستونزو د هوارى، د بشريت د ژوند او روحي داډ ګيرني لپاره لوړ لګښت لرونکي ځيرني کوي. اوبه نه يواځي د انسانانو لپاره، بلکي د ونو- بوټو او ټولو ژونديو لپاره حياتى ماده ده. ساينسپوهان وايي: *انسان د اوسيدو لپاره همدا يوغونډارى (only one earth) لرى چي ورباندې ژوند وکړي* داځکه چي د ډيرو پلټنو سره سره په لوى کهکشان او بى پايه فضا کى (زموږ د اوسنى پوهي له مخي) بل هيڅ داسي ستورى ونه موندل شو چي اوبه ولري. تر دي هم د انديښني وړ خبره داده چي راتلونکي کي دخوړو اوبود کمښت ويره موجوده ده. له همدي امله د دوبلن کنفرانس اوبه يوه اقتصادى ماده وبلله، کومه چي پخوا تردي مُفته او پريمانه ماده بلل کيده. دا چي راتلونکى جنګونه به د تيلو پر سر نه، بلکي د اوبو پر سروي، يوه ريښتيانى پيش بيني وه. همدا اوس موږ ګورو چي زموږ هيواد کى د اوبو د منابعو د خپلولپاره زموږ هيواد کي په يو نوم او بل نوم د جګړى اور تود ساتل کيږى، علت يى نه ډيورند کرښه ده او نه هم جهاد او اسلام، بلکى اصلى مقصد يي دا دى چى افغانستان کي يومقتدر ملى حکومت جوړ نشي او ونشي کولا ى چي خپلي اوبه او نور طبيعي منابع مديريت کړى.

## اوبه ولي اقتصادى ماده وبلل شوه او ولي به راتلونکي جنګونه په تيلو نه،بلکي په اوبو وي؟

د زمکي پرمخ، دځمکي لاندې طبقاتو(اکويفرونو) کي، دزمکي پرمخ (رواني اوبه)، دزمکي له مخ پورته په هوا کي دبراس په بڼه، د غرونو اودوقطبونوکنګل بڼه ټول هايدروسفير جوړوي. د هايدروسفير ډيره برخه په لويو سمندرونوکي ده، آن دا چي ويلاى شو چي د زمکى د مخ په سلو کي اويا برخه اوبه او پاتي په سلو کي ديرش وچه ده.

ستونزه دا ده چي تازه او خوړي (د استفادې او څښلو وړ) په ټول هاديرو سفير کى ډيره لږ (په سلو کي يواځي دوه) برخه جوړوى. په تيره بيا سيندونه تر ټولو لږ برخه اوبه جوړوى. د سيندونو اهميت ته په کتو سره پخوا کلونو کي يوه جلا علمى څانګه د (Potamology) په نوم رامنځته شوى وه، چي د وخت په تيريدو سره دغه علمى دسپلين اوس د نړى په پوهنتونو کي د (Rivers Studies) په نوم مطالعه کيږى، اوس Hydrology د Potamography ځاى نيولى دى چي د يو شمير پوهنځيو اساسى مضمون او ځينو نورو کي اختصاصى مضمون جوړوى.د اوبو او سيندونو د وضعيت دروښانتيا لپاره لاندې جدول وګورئ: *په همزمانه توګه د هايدروسفير بيلابيلو برخوکى د اوبو منبع اوشکلونه*

| د هايدروسفير د اوبو بڼه | زره مکعب متره | سلنه |
|---|---|---|
| سمندرونه | ۱۳۷۰۳۲۳ | ۹۳،۸ |
| تر ځمکي لاندې اوبه | ۶۰۰۰۰ | ۴،۱ |
| کنګلونه (لوى يخچالونه) | ۲۹۰۰۰ | ۲،۰ |
| جهيلونه (سمندرګى) | ۷۵۰ | ۰،۰۵ |
| په خاورو کى د رطوبت په شکل | ۷۵ | ۰،۰۰۵ |
| اتموسفير کى براس او رطوبت | ۱۴ | ۰،۰۰۱ |
| د سيندونو اوبه | ۱،۲ | ۰،۰۰۰۱ |

د یوه اقتصادی قانون له مخې هره هغه ماده چې قحط یا دکمیابي(scarcity) حالت کې وی تقاضا ورته زیاته وي، نو ارزښت یې هم لوړ وی. په همدې خاطر تیره پیری کې ددوبلن نړیوال کنفرانس کې اوبه اقتصادی ماده وبلل شوه او ښاریان، داوبو مصرفوونکی کمپنی، موسسات او نور باید داوبو دمصرف په بدل کې بیه ورکړی. نوځکه اوس د یوه قیمتی جنس په توګه عرضه کیږی، مدیریت کیږی، پلان ورته جوړیږی او د ممقیاسونو حدودو کی ارزول کیږی. د اوبو د قحط او وچکالی اصطلاح ممکن وار په وار زیاته واوریدل شی او اوبه به پرته له کار او لګښت څخه تر لاسه نشی. له بلی خوا د اوبو تولید او ویش دهغی به ارزښت کی زیاتوالی راولي. اقتصادی توکی ټول له پلورلو، پیریدلو، انحصار، سیالی، ویش او مصرف سره یو ځای وي او بیه یې د عرضې او تقاضا او ددواړو له حساسیت سره اړه لري، چې په دې کې اوبه هم راځي.

د اوبو تقاضا :

په یوه ټاکلي وخت کې د ښښلو، کرني، صنعت یا هم د ژوند دچاپیریال لپاره د او بو ټاکلی اندازه ده او هغه هم داسې چې تقاضا ورته حساسه ده، دا ځکه چې هیڅ بل بدیل نه لري.

د اوبو عرضه :

د روانو اوترځمکي لاندې خوړواو تازه اوبو(Fresh water) هغه اندازه چې صرف په ټاکلو حدودو کې موجوده ده اوبس، اما اړتیا ورته ډیره ده.

## د اوبو مدیریت:

د جاري او ځمکی لاندی اوبود منابعو لپاره پلان جوړونه، دهغو تخصیص کول اوښه مصرف، د هغو لپاره د راپور وکولو سیستم، پالیسی او ستراتیژی جوړول دی. د اوبو په هکله د(Responsible Natural Resource Policy) یا دطبیعی منابعو مسئولانه پالیسی سپارښت کیږي چې دا مسئولیت اوسني نسل ته متوجه دی او (اوسنی نسل) هروخت موجود وي، نوځکه دغه مسئولانه پالیسی هم تل تر تله او د هر نسل په وړاندې عین ارزښت او تعهد ته اړتیا لري.

دپورتنیو دلایلو له مخې په ۱۹۹۲م. کال د دوبلن کنفرانس د اوبو په هکله یو شمیر اصول (Dublin water principles) تصویب کړل چې هغه دا دي:

۱. خوږی (تازه) اوبه fresh water یوه ډیره محدوده او زیان منونکی سرچینه ده چې د ځمکی پرمخ د ژوند د دوام او د چاپیریال د خوندیتوب یوه ضروری ماده ده.

۲. د اوبو د مدیریت پرمختیا باید د یوه مشارکتی او ګډ پلان او تګلاری له مخې وي، چې پالیسی جوړوونکی، د پروګرامونو طراحان او لګښت کوونکی باید په شریکه په تولوکچوکې پدې موضوع فکر وکړی او معقول تصمیم ونیسي.

۳. ښځې د اوبو د ساتنې او ډادمنتیا په برخه کې لویه ونده لري.

۴. اوبه د مصرف په ټولو ډولونو (ښښلو، صنعت، کرنی ...) کی اقتصادی ارزښت لری او باید د اقتصادی جنس په توګه وپیژندل شی.

د اوبو تر ټولو مهمه استفاده ، د څښلو لپاره په هغو لاسبری water availability دی، چې دا له ځمکي لاندی اکیویفر اویا د غرونو له یخچالونو څخه ترلاسه کیږی. د اوبو جاری مطالعات ښکاره کوي چې یخچالونه مخ په ویلی کیدو دی او شمیر یې کم شوی دی. دوهم مهم استعمال یې د کښت لپاردی د بوټو د جذب د توانایی له مخی اوبه په خاورو کی په دوه ډوله دی: لومړی هغه ډول اوبه چې بوټی یی نشی جذبولای، دوهم هغه اوبه چې بوټو ته د لاسرسی وړ دی. بوټی نشی کولای هغو ټولو اوبو څخه ګټه واخلی چې خاورو ته ورځي. دا چې د بوټی ریښی نشی کولای ځینی وخت اوبه جذب کړی دوه علتونه لری: لومړی دا چې زیاتره وخت د باران اوبه ډیر ژر د خاورو ډیرو کوزو برخو ته ننوځي. په تیر بیا په ګرمی کی او په شګلنو خاورو کی د اوربښت اوبه ډیر لږ وخت کی د بوټو د ریښو د خپور والی له ساحی ښکته راځي او په دوه دری ورځو کی یی هیڅ نښی نه پاتی کیږی. هغه بل ډول اوبه چې ریښی یی نشی جذبولای هغه د ځمکی هغه نازکو طبقاتو کی خوندی دی او د خاورو کوچنیو ذراتو باندی ډیری کلکی نښتی، نو ریښی یی نشی جذبولای، د ونو او بوټو د مړاوی کیدو مهال هغه وخت رارسیږی چې ظاهراً دغه ډول اوبه په خاوره کی وی، خو د بوټي د استفادی وړ نه وی، نو اړ یاستو چې له ویالو او سیندونو یې اوبه کړو. دا پریکړه د سیندونو د اوبو په استعمال فشار راوړی.

له بلې خوا د خوړو اوبو د ډنډونو او سیندونو د ککړتیا او کمښت له امله آن د اوبو الوتونکی یا سمندري مرغان(seabirds )کم شوی دی او دا ویره شته چې د یو شمیر نومونه به د نړۍ سره کتاب ته ولیږدول شي. داهغه الوتونکی دي چې د اوبو په چاپیریال کی ژوند کوی لکه بتکې، حسینی قاز، ډوبینکی، زانې او نور. دا د طبیعی منابعو او وحشی ژویو wild life په بحث کی یوه کمیابه منبع ده چې ځینی ډولونه یی د انقراض په حال کی دی، یعنې د یوې سرچینې (اوبو) په قلت سره بله قیمتی منبع هم له لاسه وځي.

د ړیم استعمال یې د ځاریو څښاک او صنعت کی دی. دغو ټولو بشریت (د اوبو ډیر ایستل water mining) واقعیت سره مخامخ کړ. دا هغه حالت دی چی تر ځمکی لاندی اوبه ډیری زیاتی راوایستل شی. یعنی د اوبو د تغذیی او برداشت توازن له منځه ولاړ شی. په دی حالت کی تر ځمکي لاندې اوبو زیرمې تشیږي.

د دې ستونزی د حل لپاره تر ځمکی لاندی د اوبو زیرمو مدیریت(aquifer management) کولو ته اړتیا لرو، چې موخه یی د ځمکی لاندې اوبو د زیرمو بډای کول، بیرته ریچارج کول، مدیریت، له ککړتیا ساتل او له هغو څخه ښه استفاده کول دي. په هندوستان او پاکستان کی خلکو د اوبو د زیرمه کولو لپاره ډیمکاری (rain fed farming) ته ملا تړلی چې د باران د اوبو د زیرمه کولو لپاره ډیمونه او غرنی تالابونه جوړیږی او د کال په اوږدو کی د باران په اوبو کښت ترسره کیږی. نورو هیوادو داوبو د پاسره کولو لپاره قطره یی خړوبول drip/tricking irrigation د اوبو د اقتصادی لګښت په موخه بوټو ته د ځاځکو طریقه رواج کړی، چې ونو او بوټوته اوبه د ځاځکو په بڼه رسول کیږی یا هم کروندی او باغونه د شیندلو په طریقه sprinkler irrigation خړوبوي. ډیرو نورو هیوادونو انحرافی او ذخیروی بندونه جوړ کړی او خپل سیندونه یې راایسار کړي دي. امریکا د سیندونو اهمیت ته په کتنی سره د دغې مهمې منبع د مدیریت لپاره په ۱۹۸۹م. کې یوه لویه اداره (national rivers authority یا NRA)جوړه کړه چې په امریکا کی د اوبو ټول خدمات او علمی ځیړنې ورپورې اړه لري او د اوبو د مدیریت له نورو ادارو سره په ګډه کار کوی. په ایران کې مدیریت شیلات، پژوهش ابهای روزمینی،...په پاکستان کې WAPDA او نور ادرات په همدې موضوعاتو کار

کوی، هند هم دټول هیواد او هم د ایالتونو په کچه دې ساحه کې لوی ادرات او انستیتوتونه لری، خو بیا هم لویو اندیښنو سره مخامخ دي.

لله الحمد افغانستان دسیندونو شپږ حوزې لري (دولت رسماً پنځه حوزې معرفی کوی) چې پرته له موسمی سیندونو او خوړونو ۲۶ سیندونه لری. دغه سیندونه د خپل خوړ او ګرندیوالی له مخې بیساري دي. له بلې خوا زموږ د هیواد د اورښت اندازه هم ډیره بده نده (که په منځنی توګه یې په کال کې ۲۵۰ میلیمتره ومنو)، تر راتلونکو ۳۰-۴۰ یا ۵۰ کلونو به ان شاء الله ډیره لویه ستونزه نه وي، خو که د ځمکي لاندې اوبو دیسچارچ او استفاده دهغو دبیرته تغذیی او ریچارچ څخه پرته همداسې دوام ومومی او اوبه اقتصادی ماده نه کړو، ډیر ژر به لویی ستونزی سره مخامخ شو. همدا اوس د هیواد ډیرو ښارونو او له هغی جملې په کابل ښار کې د اوبو د ناسم مدیریت او دې برخه کې د پالیسی او ستراتیژی دنشتوالی له امله د زیرزمینی اوبو د زیرمو کمښت احساس کیږي، خو د کرنې، دبریښنا د تولید او د زیرمو د پیاوړتیا لپاره یوې قوي برنامې، سنجول شوې ستراتیژي او علماً تنظیم شوې پالیسی ته ضرورت دی، هغه څه چې نه یې لرو!

افغانستان د اوبو لګولو او ملی سیندونو په تولو (رسمی پینځو او زموږ د پیشنهاد له مخې شپږو) حوزو (watershed/basin/tributaries) کې تخنیکی کار ته اړتیا لري.

د۱۳۹۸کال پسرلنی بارانونه تر نورو کلونو ښه وو، اما زموږ د وچکالی ستونزه یی پوره حل نه کړه. دهمدغه کال په د وړي میاشت کی په سیندونو کی د اوبو کمښت، په ځاګانو کې د اوبو د کچې ټیټیدل او د چینو او کاریزونو د اوبو قلت ولیدل شو، علت دا و چی صرف د یوه کال پسرلنی او ربښتونه د څو کلونو کم ورښتونه نشی جبرانولای، یعنی د زمکې لاندې زیرمی پوره چارچ ته اړتیا لري. له بلې خوا **څرګند حقیقت** په اثبات ورسید او هغه داچې:
تر څود اوبو منابع ***علماً مدیریت*** نشی، اورښتونه او سیلاوونه به خاوره وړی ، خو د اوبو د کمښت ستونزه به پرځای پاتی وی، نو بویه چې ***د اوبو مدیریت ته لومړیتوب*** ورکړو.
باید سیندونه او خپلی اوبه مدیریت او زیرزمینې زیرمې تغذیه شي. د بندونو او کانالونو کیندل لومړنی ضرورت دی. باید دې برخه کې متخصص کادر وروزل شی، موږ هرکال ۱۲۰۰ شاخوا محصلان بواځې د حقوقو اوسیاسی څانګه کې بهر ته استوو، خو د هایدرولوژی او هایدرومتری برخه کی مو هیڅ پاملرنه نده کړی. موږ باید افغانستان کې د اوبو د رامنځته کیدو، حرکت، ویش، روانو او ترځمکی لاندې اوبو تول جریانات مطالعه کړو. دګړو له لاسه ټیپي او په سینه پروت افغانستان چې فاسدو او بی کفایته زورواکو یرغمل کړی، اوسنی وخت کی هیچا سره د ابو پر سر د تړون او قراردادونو او لابیګری وس او واک نه لری، د یوه توانمند اوقوی مرکزی دولت تر جوړیدو پورې باید له ګاونډیو سره د خبرو او قرارداد له لاسلیک په کلکه ډډه وشی، که نه دا به وروسته د ګندمک له معاهدی دوهمه تیروتنه وي. *اوبه مو آبرو ده.* ملی شعور باید اوچت شی. باید د اوبو دمدیریت پروژې تر کار لاندې ونیسو. دې برخه کې د هلمند د ناوې پروژه، نغلو او د ننګرهار د کانال پروژه نمونوی او موفقه بیلګه ګرځیدای شی(سره له دی چې دربواره ډیرې زړې دی او لومړنی یې بشپړه نشوه، دوهمه تکفیر او دربیمه یې بیرته ویجاړه شوه)، د هیواد جنوب کی د دوو نهرونو، د کندهار د لویې ویالی پروژه، د نهرکریم پروژه، په شمال کی د اوبو لګولو یو شمیر پروژې چې له نن څخه ۳۰-۴۰ کاله پخوا تکمیل شوی الګو وګرځوو. دې وروستیو کې د سلما، کجکی ، مروارید،

کامي بند، سلطان بند، کمال خان او بخش اباد بندونو خبرونه اوریدل کیږی، دا ټول پخوانی بندونه دی، خو د شاتوت او شاه وعروس بندونه لږ څه نوي طرح ده چي صرف د کابل ښار د څمکنیو زیرمو لپاره به اغیزمني وی، حال دا چي د هیواد دټولو سیندونو په امتداد او بهیر کی دا ډول بندونه او زیرمی جوړیدای شي. دافغانستان دسیندونو یو عجیب خصوصیت دا دی چي هرو ۸-۱۲کیلومترو کي یو سرکوب ( په لازمي ارتفاع سره د کرنیزو زمکو د کانال دایستلو او دبریښنا دتوربین د ګرځولو لپاره د شرشري دتشکیل امکان) ورکولای شي. همدا اوس په نړی کي په سلو کي لس سیندونه په مصنوعی ډول او د تخنیکی کار په واسطه جوړ او د ابو د جریان د رهنمایی او کنټرول لپاره استفادې لاندې دی، حال داچي د افغانستان د طبیعی سیندونو په سلو کي ۷۰-۷۵پوري اوبه بی استفادی وځي یا ډاګونو کي جذبیږی.

د دي په خاطر چي د اوبو پرسرله راتلونکو جنګونو څخه خوندي پاتي شو، دسیندونو ترغاړي تړي ونه اوسو، آب مو خوندی او له ربا برخمن اوسو، نو باید له همدي اوسه دې برخه کی کار وکړو. د اوبو پر سر جنګونه د توري، توپ او توپک جنګونه نه دی، بلکي دا د ثواب تر نوم لاندي هغه تباه کوونکی جنګونه دی چي د زیربنایی پروژو له منځه وړل، د عامه افکارو منحرفول، سیاسی رشوت ورکول، ګوډاګی په ګدی کینول او د تعصباتو، خرافاتو، فساد، مخدراتو، قاچاق او نورو خورول یې یوه برخه ده، نو افغانان چي په توره او توپک کي ډیر زړور اوتکړه دی، خو په دا دوهم ډول جګړه کي بیا تر ټولو بی زړه او ناکام دی. د اوبو په شان مهم مسایل، د کرنیزو زمکو خړوبول، دچاپیریال ساتني موضوعات، د اقتصادی ودې لار هوارول، تکنالوژي عامول، غذایی مصئونیت ته رسیدل ، انسانی عالی سجایا روزل اوتعلیم اوچتول، مدنی او فرهنګی متعالی ارزښتونه ځلول، په نړیواله کچه د هیواد دخپلواک پرستیژ اوچت ساتل، دعامه خدماتو ښه کول او دې ته ورته لوی تدابیرد منځنیو پیړیو د دوران په حاکمیتونو نشی کیدای، دغه لوی تدابیر د یوویشتمي پیړی حکومتولي او خدمتګار دولت غواړي، چي د اوبو مدیریت یې یوه دنده ده.

****** **** ******

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!